# د بلخ پوهنتون ملي کنفرانس په اړه د مقالې لیکلو لارښود

د غه لارښود د بلخ پوهنتون ملي کنفرانس په اړه  د علمي او څېړنیزو مقالو د جوړښت بېلابېلې برخې او  ځانګړې موخې  په لنډ ډول بیانوي.

۱ـ **عنوان:** کارېدونکی، د څېړنې وړ، جامع، د څېړنې د منځپانګې منعکسوونکی او له ۲۰ کلمو څخه کم وي.

۲ـ **لیکوال/ لیکوالان**: له عنوان وروسته دې ښي اړخ ته د لیکوال ځانګړنې او په بله کرښه کې دې د پوهنتنون او ډیپارتمنت نوم  ولیکل شي.

۳ـ **لنډیز:**  ۲۵۰ کلیمې په یو پراګراف کې، له متن څخه بېل، منسجم او پرته  له قضاوته، لنډ او د مقالې د متن په ژبه دې برابر شي، همداراز لنډیز دغه برخې لري:  د څېړنې مسأله، موخه، میتود، موندنې او پایله په یوه یوه جمله کې.

۴ـ **کلیدي کلمې**: له ( ۳ ـ ۶ ) کلیمو چې په مقاله کې ډېرې کارېدلې وي.

۵ـ **سریزه:**  د موضوع بیان، ارزښت، موخې، پوښتنې، د څېړنې فرضیې، موندنې او د نورو څېړونکو کار په دې برخه کې په لنډ ډول بیانول.

۶ـ **په کیفی څېړنو کې د اصلي مقالې چوکاټ**: د څېړنې اصلي متن یا چوکاټ، د څېړنې اصلي او اساسي برخه جوړوي چې د لیکوال له لورې  د شواهدو او ترلاسه شویو موادو تحلیل تر سره کېږي او اصلي متن باید دغه لاندې ځانګړنې ولري:  مستدل، منطقي تسلسل، د نورو لیکوالو د تحلیلونو بیان او د څېړنې اخلاق په نظر کې نیول.

۷ـ **په کمي څېړنو کې د مقالې مواد او  کړنلاره** :  تېرو اثارو ته کتنه، د څېړنې کړنلاره ( ټولنیز ارقام، شکل  او د شکل ګیری کړنلاره، د معلوماتو د راټولونې وسایل، د معلوماتو د تحلیلولو کړنلاره) او د څېړنو د موندنو بیان.

۸ـ **پایله:** پایله اخیستنه باید د څېړنې د موندنو او لاسته راوړنو منعکس کوونکې وي او تر لاسه شوې پایله د  تجزیې او تحلیل وړ وي. څېړونکی  له خپلې څېړنې څخه تر لاسه شوي ځوابونه مطرح شویو فرضیو ته په کتو پرتله او وڅېړي د وړاندیزونو لزوم دید په صورت کې دې د حل لارې چارې هم ورته وړاندې یا مطرح کړي.

**۹ـ د مأخذ لیکنې اصول:** مأخذ دې د ( APA) اصولو مطابق ولیکل شي.

**۱۰ـ د مقاله لیکنې شکلي جوړښت:** د مقالې ټول لوی عنوانونه دې له سریزې تر مأخذونو شماره ګذاري شي او فرعي عنوانونه دې نظر په ( ۱ ـ ۱ ـ ۱ ) ادامه پیدا کړي او نور ټول عنوانونه دې پرته له شمېرې ذکر شي.

**۱۱ـ د فونټ او اندازې د څرنګوالې لارښود.**

| موضوع | اندازه | د فونټ ډول |
|---|---|---|
| په درې ژبه د مقالې عنوان | ۱۴ بولډ | B zar , B mitra |
| په پښتو ژبه د مقالې عنوان | ۱۴ بولډ | Bahij Zar, Bahij mitra |
| په انګلیسي ژبه د مقالې عنوان | ۱۴ بولډ | Times News Roman |
| په عربي ژبه د مقالې عنوان | ۱۴ بولډ | Bahij Zar, Bahij mitra |
| د عنوان خلاصه | ۱۲ بولډ | د مقالې د متن ژبې ته په کتو |
| د متن خلاصه | ۱۲ بولډ | د مقالې د متن ژبې ته په کتو |
| د متن دننه عنوانونه | ۱۲ بولډ | د مقالې د متن ژبې ته په کتو |
| د مقالې متن | ۱۲ ساده | د مقالې د متن ژبې ته په کتو |
| پاورقي (حاشیه) | ۱۰ ساده | د مقالې د متن ژبې ته په کتو |